عبدالعلي رسولزاده

# پښتو (ي ګاني)

له څه مودې را هيسې د پښتو (ی ګانو) په باره کې په مختلفو انټرنيټي پاڼو کې ليکنې کيږي. ځيني دغه ليکني زهرجني بولي، ځيني يې بې ګټې او ځيني يې ګټوري بولي. زما نظر دا دئ، هر څومره چې ډيري ليکني او خبري پر و سي يو وخت نه يو وخت به يې نتيجه را منځته سي. د يوې خوا کېدای سي چې هغه خلک چې د مخه تر دې يې په دغه خبره کې ری نه واهه نن به يو څه متوجه سي او د بلي خوا به لږ تر لږه د لوېديځي او ختيځي لهجې تر منځ د (ي ګانو) د کارولو د اختلاف ټکي خلکو ته ښکاره سي. که څه هم د دغو دوو لهجو تر منځ په دې برخه کې ډېر زيات اختلاف شتون نه لري، يوازنی اختلاف په ځيني ځايو کې د لنډي يا معروفي (ي) او اوږدې يا مجهولي (ې) کارول دي. د دې خبري يو څو مثالونه لکه په دغه لاندي کلمو کې:

| لوېديځه لهجه | ختيځه لهجه |
| --- | --- |
| په ښوونځي کي | په ښوونځي کې |
| تا چي کتاب و لووست | تا چې کتاب و لووست |
| په کور کي | په ښوونځي کې |
| ښځي ته کتاب ور کړه! | ښځې ته کتاب ور کړه! |

زه فکر نه کوم چې دا به دومره اختلاف وي چې سړی په ليکه کې د (ی ګانو) تر مراعتولو بيخي تېر سي. په دري (فارسي) ژبه کې مثينه يا نرمه (ی)، معروفه يا لنډه (ي) او مجهوله يا اوږده (ې) سته خو کوم سمبولونه چا نه دي ور ته جوړ کړي. د دې خبري يو ښه مثال د (شير يعني شيدې او شېر يعني زمری) کلمې دي چې دواړه په شير ليکل کيږي. په هر حال پښتنو د پنځو (ی) ګانو لپاره سمبولونه جوړ کړي دي نو ښه به دا وي چې مراعت يې کړو.

په پښتو کې د پنځو (ی ګانو) معرفي د ډېره وخته را پيل سوې ده. زموږ او ستاسې په ياد دي چې په ښوونځيو کې د پښتو ګرامر په کتاب يا کتابو کې د پنځو (ی ګانو) نومونه سره د مثالو را غلي ول. د بده مرغه په هغو کتابو کې چې سرې کتلي وای نو د (ی ګانو) د کارولو څرک نه ليدل کېدئ. په زړه پوري خبره لا دا وه چې بيا نو د دغو (ی ګانو) په کارولو او مراعتولو پسې نه ښوونکو او نه زدکوونکو سر ګرځاوه. د دې کار معنا دا وه چې ګواکې په ښوونځي کې پښتو (ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاني) چا نه زده کولې او شايد ډېر لږ به د چا زده وې. دلايل يې سړی فکر کولای سي ، خو چې خبره مو اوږده نه سي دلته به يې پرېږدو.

څه شی وو چې زه يې دې ته اړ کړم څو د پښتو ژبې (ی ګانو) ته په خپل تدريس کي ټينګه پاملرنه و کړم ؟ په سوېډن کي مي په يوه ټولګی کي د دوو زدکوونکو تر منځ د لرګی (مفرد) او لرګي (جمع) پر سر خبره را منځته سوه ، ځکه هلته د کتاب پر پاڼه د لرګيو رسم وو او په جمله کي لرګی (مفرد) ليکلی وو. خبره دا وه چې دا نو بايد لرګي و وايو ځکه هلته ډېر لرګي پراته ول. زه نا چاره سوم چې په دا بله ورځ د پښتو (ی ګانو) په اړه زدکوونکو ته شرح ور کړم. کور چې مي د پښتو ګرامر کتاب و کوت په دا بله ورځ مي په تدريس کي د پښتو (ی ګانو) ته هم ځای ور کړ. د (ی ګانو) د تدريس په وخت کي مي د ختيځي او لوېديځي لهجې تر منځ د لنډي (ي) او اوږدې (ې) کارول د هري لهجې زدکوونکو ته د خپلي لهجې له مخي اجازه ور کړه. دا مي لا هم ور ته و ويل که يو هغې بلي لهجې ته ور اووښتی وو معنا يې دا ده چې ګواکي تېر وتلی دئ. په نورو (ی، ۍ، ئ) ګانو کي بيا چنداني ستونزه نه وه. په دې کار مشکل تر ډېره ځايه حل سو او لږ تر لږه زدکوونکو ته د (ی ګانو) په اړه يوه مفکوره پيدا سوه.

پښتو (ی ګانو) ته مي په يوه وړوکي ګرامر کي ځای ور کړ. تر دې وروسته د ليکوالانو سره د (ی ګانو) د کارولو کي مينه پيدا سوه او کله کله به يې د نړۍ د نورو هيوادو څخه زما څخه مشوره غوښته. دلته غواړم هغه څه چې ما د (ی ګانو) په اړه را ټول کړي دي و يې ليکم.

د مخه تر دې چې د (ی ګانو) په باره کي څه و ليکل سي لومړی به د پښتو ژبې الفبې او په هغې کي (واول يا ږغ لرونکو يا مرستندوی) توري را په ګوته کړم ځکه چې (ی ګاني) هم په ځينو ځايو کي واول وي.

دلته لاندي د الفبې هغه توري ليکل سوي دي چې له لاري يې د پښتو ژبې کلمې او هغه کلمې چې د فارسي او عربي ژبې څخه را پور سوي دي ليکل کيږي:

ا ب پ ت ټ ث ج چ ځ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و (ه ه ـه) ی.

د الفبې توري په دوه ډوله معرفي کيږي ، چې يو د هر توري نوم دئ لکه: (الف)، (بې)، (پې)، (تې ...). بل يې د هر توري ږغ دئ لکه: (ا)، (ب)، (پ) ... دلته بايد و وايم چې ږغونه په ليکلو نه سو ښودلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورتنۍ الفبې په تورو کي(ا، و ، ی) (واول یا ږغ لرونکي یا مرستندوی) توري دي. د الفبې تر دغو (واول یا ږغ لرونکو یا مرستندویو) تورو د باندي یو شمېر نور (واول یا ږغ لرونکي یا مرستندوی) سته چي په خپله توري نه دي بلکي نښي دي، خو د ږغ لرونکو تورو کار ور کوي. هغه نښي(زور-دَ ، زیر- دِ، پیېښ -دُ او زورکی چي کومه نښه ور ته نه سته) دي. ځیني خلک دغه ږغ لرونکي نښي د حرکاتو په نامه بولي. دغو نښو(زور، زیر، پیېښ او زورکي) نه یوازي د پښتو ژبي د کلمو په تلفظ کي ګډوډي را وستلې ده بلکي په فارسي کي بېي هم د تلفظ ستونزي را منځته کړي دي.

د واولو تورو دنده دا ده چي په کلمه کي سیلاب(هیجا) یا سیلابونه جوړ کي لکه:

د (تاریخ)کلمه دوه سیلابه ده. (تا) یو سیلاب او (ریخ) بل سیلاب دئ چي لومړی سیلاب(ا) او دوهم سیلاب(ي) جوړ کړی دئ. د کور کلمه د یـوه سیلاب څخه جوړه ده چي هغه مجهول یا اوږد (و) جوړ کړی دئ.

بل دا چي(ا ، و ، ی) په ځینو ځایو کي واول او په ځینو ځایو کي کانسونانت یا بې ږغه توري دي. د پخواني تعریف له مخي که د دغو درېیو تورو د جملې څخه یو توری په کلمه کي سیلاب یا هیجا جوړه کړي نو دغه توری په خپله واول دئ. که د دغو درو تورو څخه یو د بل ږغ لرونکي توري یا ږغ لرونکي نښي له لاري په حرکت را سي نو دی کونسونانت یا بې ږغه توری دئ. اوس هغه درې ږغ لرونکي توري هر یو په ځانګړې توګه را اخلو:

## ۱ ـ (الف)

(ا) چي د پښتو الفبې لومړی توری دئ، په عربي او فارسي کي ور ته همزه هم ویل کیږي. دغه توری که د کلمې په پیل کي را سي د ساکن یا بې ږغه توري په شان باید د یوه ږغ لرونکي توري له لاري په حرکت را سي لکه:

انار د انار په کلمه کي (ا) یوه زور په حرکت را وستلی دئ.
انګور د انګور په کلمه کي هم(ا) یوه زور په حرکت را وستلی دئ.
انځر د انځر په کلمه کي (ا) یوه زیر په حرکت را وستلی دئ.
انځۍ د انځۍ یا انسۍ په کلمه کي (ا) یوه زیر په حرکت را وستلی دئ.
اور د اور په کلمه کي(ا) یوه(و) په حرکت را وستلی دئ.
اوږه د اوږه په کلمه کي(ا) یوه(و) په حرکت را وستلی دئ.
ایرې په ایرې کي(ا) (ي) یوې(ي) په حرکت را وستلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایشول په ایشول (ا) (ي) یوې (ي) په حرکت را وستلی دئ.

کله چې اړتیا پیدا سي چې (ا) د یوه بل (الف) په واسطه په حرکت را سي پدې حالت کې بیا د الف پر سر مد ( ~ ) لیکي لکه:
آس
آرام
آر

کله چې (الف) د پښتو کلمې په منځ یا پای کې را سي په هغه وخت کې د واول کار ور کوي. دا په دې معنا چې یوه بل توري ته حرکت ور کوی لکه:
ښکار، مار، لار، ځای، ملا، ماما، بابا او نور.

یوه ټکي ته باید اشاره و سي چې په پښتو ژبه کې د کلمې په سر کې ساکن توري را تلای سي ببله دې چې د یوه واول له لاري حرکت و کړې لکه: (ښکار) چې (ښ) یې ساکن او (ک) یې په الف ولاړ سوی دئ.

## ۲ ـ (و)

(و) هم د پښتو ژبې د تورو څخه یو توری دئ او په پښتو کې (و) دوه ډوله دئ لکه:

- لنډ یا معروف (و) لکه: کډو، یابو، جارو او نور.
- اوږد یا مجهول (و) لکه: لکه بیزو، ښارو، نازو او نور.

(و) په ځینو ځایو کې بې ږغه او په ځینو ځایو کې ږغ لرونکی توری دئ چې دلته لاندي به یې و ګورو:

دلته لاندي چې د کلمې په سر کې (و) را غلی دئ بې ږغه توری دئ ځکه چې یا ساکن او یا د یوه بل واول توري یا نښې له لاري په حرکت را غلی دئ لکه:

واوره دلته لومړی (و) په الف ولاړ سوی دئ او دوهم (و) ساکن دئ، دواړه بې ږغه توري دي.
وانجه دلته هم (و) په الف ولاړ سوی دئ.
ووړ دلته لومړی (و) په دوهم (و) په حرکت را غلی دئ.
ویر دلته (و) د (ي) په واسطه حرکت کړی دئ.
وینه دلته (و) د (ي) په واسطه حرکت کړی دئ.
ورکه (د لاسه ور کړه سوی). دلته (و) ساکن دئ، خو (ر) زورکی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربېره   دلته (و ) ساکن دئ .
ور که (ډوډۍ ور که ! ) دلته (و ) زور لري .
تړاو      دلته (و ) د کلمې په پای کې ساکن او بې ږغه توری دئ .

## ۳ - ( ي )

په پښتو کې (ی ګاني) کله څلور او کله پنځه او یا زیاتې معرفي سوي دي . زما په نظر که یې تر شمېر را تېر سو مهم یې تلفظ دئ . ما هم د پخوا په شان د پنځو (ی ګانو ) په اړه معلومات را ټول کړي دي او دلته یې را وړم ، هغه پنځه (ی ګاني) لکه :

1. ملینه یا نرمه (ی )
2. معروفه یا لنډه (ي)
3. مجهوله یا اوږده (ې)
4. ثقیله تانیثي یا درنده ښځینه (ۍ)
5. ثقیله فعلي یا درنده فعلي (ئ)

**1.ملینه یا نرمه ( ی )** : لکه سړی ، غمی ، لرګی ، سپی ، ځای ، خوی ، لوی، بوی ، دی ، غټی او نور .

ملینه (ی) د مذکر (نرینه) اسمونو او صفتونو په پای کې راځي .

د کومې کلمې په پای کې چې ملینه (ی) را غلې وي تر مخه توری یې زور لري یا به د (ی) تر مخه توری (الف) او یا معروف (و ) وي . هیڅ وخت په تلفظ کې تر ملیني (ی) د مخه توری زېر او یا زورکی نه لري . دلته لاندې به یې و ګورو :

د (سړی) په کلمه کې (ړ) زور لري .
د (لرګی) په کلمه کې (ر) زور لري .
د (ځای) په کلمه کې تر نرمې (ی) د مخه (الف) را غلی دئ .
د (زوی) په کلمه کې تر نرمې (ی) د مخه (و ) را غلی دئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ملیني (ی) ځیني خواص:

۱ـ ملینه یا نرمه (ی) د یو شمېر نرینه (مذکر) اسمونو او صفتونو د مفرد حالت په پای کي راځي، مهم خاصیت یې دا دئ چي تر مخه توری یې (زور) لري لکه:

سړی
سپی
غمی
لړګی ....

۲ـ کوم اسمونه چي په پای کي یې ملینه (ی) را غلې وي جمعي یې په معروفه (ي) جوړېږي یعني د جمع په وخت کي یې ملینه (ی) په معروفه (ي) اوړي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| سپی | سپي |
| سړی | سړي |
| لړګی | لړګي |
| زمری | زمري |
| ټوخی | ټوخي |

۳ـ ملینه (ی) د کلمې په سر کي نه را ځي او که د کلمې په منځ کي راسي په معروفه (ي) لیکل کیږي او تلفظ یې په معروفه (ي) اوړي، مګر په ډېرو لږو ځایو کي یې ځیني خلک تلفظ په ملینه (ی) کوي یعني تر مخه توری یې په زور تلفظ کوي لکه:

د (ګرندی + توب) څخه (ګرندیتوب)
د (سپی + تانه) څخه (سپیتانه)
سړی + توب څخه سړیتوب
غړی + توب څخه غړیتوب

د (دی) فعل پـه لوېـدیځه لهجه کي پـه ثقیله فعلي (ئ) او د ختیځي لهجې پـه ځینو سیمو کي په (دی)، پـه ځینو سیمو کي پـه (دې) او په ځینو کي په (ده) تلفظ کیږي. په دې ځای کي خبره دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي (دی) د واحد غایب ضمیر دئ لکه پـه انګلیسي کي (He) او (ده) د واحد مونث لپاره فعل او په ځینو ماضي جملو کي د واحد مذکر لپاره ضمیر دئ لکه: ده موږ ته و ویل.

۴ـ د ملیني (ی) یو بل خاصیت دا دئ چي هغه اسمونه چي دغه (ی) یې په پای کي را غلې وي په ځینو ماضي زمانو کي یې دغه نرمه (ی) په معروفه یا لنډه (ي) اوړي لکه:

| د مفرد په حالت کي | د جمع په حالت کي |
|---|---|
| سړی کابل ته ولاړ. | سړي کابل ته ولاړل. |
| سړي موږ ته و ویل. | سړیو موږ ته و ویل. |
| سپی بام ته و خوت. | سپي بام ته و ختل. |
| سپي موږ ته و غپل. | سپو[1] موږ ته و غپل. |
| لړګی مات سو. | لړګي مات سول. |
| لړګي چینجي درلود. | لړګیو چینجي در لودل. |

[1] دلته باید سپیو را غلی وای، خو دا چي د سپي مونث سپۍ ده او د سپۍ په پای کي (ۍ) را غلي ده او هغه د اضافت په حالت کي په (د سپیو) اوړي، ځکه نو د دې لپاره چي د نرو سپیو او د ښځو سپیو تر منځ توپیر و سي، د (نرو سپیو) معروفه (ي) له منځه ځي او په سپو اوړي. یو ښه مثال یې په دغه متل کي چي وایي (د سپو سلا فقیر ته یوه ده) را غلئ دئ.

که څه هم د (سړی) جمع سړي
د (سپی) جمع (سپي) او
د (لړګی) جمع (لړګي) دي

خو په

سړي موږ ته و ویل.
سپي موږ ته و غپل.
لړګي چینجي درلود. کي

د سره رنګ اسمونه جمع نه دي، خو د ژبي د قواعدو له مخي د جمع په شکل یعني په معروفه یا لنډه (ي) اوښتي دي.

۵ ـ بل دا: هغه اسمونه چي په پای کي یې ملینه (ی) راغلې وي په اضافي حالت کي یعني کله چي یې تر مخه (د) راسي نرمه (ی) یې په لنډه (ي) اوړي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سړي شمله اوږده ده.
د سپي سترګه ړنده ده.

په پورتنيو دواړو جملو کې د (سړي) او (سپي) کلمې د مفرد په حالت کې را غلي دي.

که چيري يو څوک و وايي (د سپی سترګه ړنده ده). يعني په تېره جمله کې د (سپي) پر ځای (سپی) و وايي دا نو آ د خلکو په اصطلاح نر پېښتو ده.

۶ ـ د ملينې (ی) بل خاصيت دا دئ چي: هغه مذکر (نرينه) اسمونه چي په پای کې يې ملينه (ی) راغلې وي د ندا (!) يا ور ږغ کولو په وخت کې تر (ی) وروسته (ه، ـه) ور لويږي لکه:

سړی سړيه!
سپی سپيه!

دلته موږ وينو چي د ندا په وخت کې د سړی او سپی په کلمو کې ملينه (ی) په معروفه (ي) واوښته نو تلفظ يې هم بايد په معروفه (ي) و سي. په ختيځه لهجه کې يې تلفظ زياتره په معروفه (ي) کيږي يعني د سړی په کلمه کې د (ړ) زور په زېر اړوي خو په لوېديځه لهجه کې يې په ملينه (ی) تلفظ کوي او د (ړ) زور ته تغيير نه ور کوي.

۷ ـ د ځينو نسبتي صفتو په صورت کې د مذکر مفرد اسم په پای کې ملينه (ی) ور لويږي او د مذکر مفرد اسم لپاره نسبتي صفت ځني جوړيږي لکه:

هرات هراتی
کابل کابلی
کندهار کندهاری
مزار مزاری

که اسم مونث وي نسبتي صفت يې په معروفه (ي) جوړيږي لکه:

فراه فراهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.معروفه یا لنډه ( ي ) : لکه پشي، نالي ، کالي ، پاکي ، دي ، خوري ، لیندۍ ، مینځل، اخیستل او داسي نور. معروفه(ي) د کلمې په سر، منځ او پای کي را ځي. په پښتو کلمو کي معروفه (ي) د کلمې په پای کي تر (الف) وروسته نه را ځي.

د معروفي یا لنډې(ي) د مخه توری تل زېر لري. لکه په لاندي کلمو کي:

د (پشي) په کلمه کي (ش) زېر لري.
د ( نالي ) په کلمه کي (ل) زېر لري.
د (کالي) په کلمه کي(ل) زېر لري.
د ( پاکي) په کلمه کي(ک) زېر لري.

کله چي معروفه(ي) د کلمې په سر کي را سي د (نیمه واول یا کونسونانت) په شان کار ور کوي. دا په دې معنا چي دغه(ي) پخپله یوه بل واول ته اړتیا لري چي دې ته حرکت ور کي لکه:

په(یَو ) کي(یَ) زور لري ، چي دغه زور پخپله واول دئ او تر(ی) وروسته چي(و ) را غلئ دئ هغه ساکن دئ.

په (بیا ) کي(بِ) زېر لري او (یـ) په(ا ) ولاړه سوې ده .

## د معروفي یا لنډي (ي) ځیني خواص:

۱ـ کوم نرینه اسمونه چي ملینه(ی) یې په پای کــي را غلـې وي جمعي یې په معروفه(ي) جوړېږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| سپی | سپي |
| سړی | سړي |
| کالی | کالي |
| لرګی | لرګي |

۲ـ هغه مونث مفرد نومونه چي په پای کي یې معروفه(ي) را غلې وي جمع یې درنده ښځینه(ۍ) جوړېږي لکه:

زاري زارۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نالي نالۍ
ښادي ښادۍ
خواري خوارۍ
وراني ورانۍ

۳ـ لکه د ملینې (ی) پـه برخه کې چې و ویل سوه د هغو اسمونو په پای کې چې ملینه (ی) راغلې وي په اضافي حالت کې په داسې حال کې چې اسم جمع نه وي معروفه (ي) را ځي لکه:

د سړي ډوډۍ يې راوړه.
د سپي لکۍ يې ور لنډه کړه.

۴ـ لکه د ملینې (ی) پـه برخه کې چې و ویل شوه د هغو اسمونو په پای کې چې ملینه (ی) راغلې وي د ماضي په ځینو جملو کې په داسې حال کې چې اسم جمع نه وي ملینه (ی) په معروفه (ي) اوړي لکه:

سړي موږ ته و ويل.
سپي خلکو ته و غپل.

خو په بل ځای کې بیا که څه هم جمله ماضي ده مګر ملینه (ی) په معروفه (ي) نه اوړي لکه:

سړی کابل ته ولاړ.
سپی و تښتېد.

۵ـ کله چې (سړی، سپی، کالی، لرګی...) د مفرد په حالت کې په حال زمانه کې را غلي وي نو په دغه ځای کې پر خپل حالت راځي لکه:

سپی په کوڅه کې ځغلي.
سړی کور ته ځي.

و ګوره سړی تر لاندې واچوه کالی!

لرګی ماتیږي.

کله چې نومـوړي اسمونه د جمع پـه حالت کې پـه حال زمانه کې راځي، ملینه (ی) يې پـه معروفه (ي) اوړي او فعل يې پر هغه خپل حال پاته کیږي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپي ځغلي.
سړي کور ته ځي.
لرګي ماتيږي.

۶ - د معروفي (ي) يو بل خاصيت دا دئ چي که د کومي کلمي په پاى کي د ښځينه اسمونو ثقيله (ى) را غلي وي او و غواړو چي د يو بل نوم سره يې يو ځاى کړو دا چي ثقيله (ى) د کلمي په منځ کي نه راځي نو يې ثقيله (ى) په لنډه (ي) اوړي لکه:

الف:

په اضافي حالت کي د جمع په وخت کي

| | |
|---|---|
| هيلۍ | د هيليو بڼکي |
| ګاډۍ | د ګاډيو آسونه (اسونه) |
| لنګۍ | د لنګيو شملي |
| غالۍ | د غاليو رنګونه |

ب:

که و غواړو چي (نړۍ + وال) ګډ و ليکو نو بيا (نړيوال) ور څخه جوړيږي. ځيني خلک (نړيوال) په معروفه (ي) تلفظ کوي او ځيني خلک يې په ثقيله لکۍ داره (ى) تلفظ کوي که څه هم پــه معروفه (ي) ليکل سوى دى.

3. مجهوله يا اوږده (ې): لکه ادې، شيدې، مستې، ډېر، مېز او نور. مجهوله (ې) د کلمې په سر کي نه را ځي، خو د کلمې په منځ او پاى کي را ځي. دا (ې) د پښتو کلمو په پاى کي تر ږغ لرونکي (الف) وروسته ببله (اې، وروره!) بل ځاى نه را ځي. دا په دې معنا چي که (ا) د خپل تر مخني توري لپاره واول را غلی وي نو وروسته يې (ې) نه را ځي، خو که (ا) د کونسونانت په شان را غلى وي تر هغه وروسته (ې) را ځي لکه په (اې) کي چي الف زبر لري.

تولي هغه پښتو کلمې چي په پاى يا منځ کي يې مجهوله (ې) را غلي وي تـر مجهولي (ې) د مخه توری يې زبر لري (زير يې ډېر زيات د لاندي خوا ته کش سوى وي) لکه په لاندي کليمو کي:

د (ادې) په کلمه کي (د) زبر لري.
د (شيدې) په کلمه کي هم (د) زبر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ( مستي ) په کلمه کي (ت) زبر لري.

د (ډېر) په کلمه کي (ډ ) زبر لري. د (ډېر) کلمه سربېره پر دي چي تر (ډ ) وروسته د اوږدې (ې) ږغ اوربدل کيږي بيا يې هم زياتره ليکونکي په معروفه (ي) (ډير) ليکي.

## د مجهولي يا اوږدې (ې ) ځيني خواص:

مجهوله (ې) چي کله د يو شمېر مونثو يا ښځينوو اسمونو د جمع په حال کي د اسمونو په پاى کي را ځي په دغو لاندي ډولو وي لکه:

۱ـ هغه ښځينه اسمونه چي:

ـ په پاى کي يې (ه ، ـه) را غلي وي.
ـ تر (ه ، ـه) د مخه توري يې زور و لري.
ـ د کلمي پر وروستى برخه يې خج را غلى وي.

دغه اسمونه ښځينه اسمونه دي او جمعي يې په مجهوله يا اوږده (ې) جوړيږي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ګېډوه | ګېډوې |
| سرېمه | سرېمې |
| پايڅه | پايڅې |
| کاسه | کاسې |
| کوزه | کوزې |
| اجاره | اجارې |
| کنډواله | کنډوالې |

د دغو اسمو سره چي کوم صفتونه را ځي هغه دوه ډوله دي لکه:

❖ هغه صفتونه چي تر دغو ښځينوو اسمو د مخه راځي دغه لاندي دري خاصيته و لري:

ـ په پاى کي يې (ه ، ـه) راغلي وي.
ـ تر (ه ، ـه) د مخه توری يې زور و لري.
ـ پر وروستى برخه يې خج را غلئ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسم د جمعي په صورت کي يې په پای کي مجهوله يا اوږده (ې) را ځي لکه:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| ويدې وزې | ويدَه (د مونث صفت) وزه |
| کږې خادې | کږه خاده |
| درنې پښې | درنه پښه |
| زړې تېشې | زړه تېشه |
| سرې ګډوې | سره ګډوه |
| شمې خرې | شَمه خره |
| کڼې وزې | کڼه وزه |
| زړې لهجې | زړه لهجه |

❖ بل هغه ډول صفتونه دي چي تر دغو ښځينوو اسمو د مخه راځي چي:

- په پای کي يې (ه ، ـه) راغلي وي
- تر (ه ، ـه) د مخه توری يې زورکی و لري
- د کلمي پر وروستۍ برخه يې خج نه وي را غلئ

د خپل اړونده اسم د جمع په صورت کي يې په پای کي معروفه يا لنډه (ي) را ځي لکه:

| جمع | مفرد |
|---|---|
| پنډي رمي ، پنډي پښې | پنډه (صفت دئ د مونث لپاره) |
| منډي خولي | منډه (صفت دئ د مونث لپاره) |
| لنګي وزې | لنګه (صفت دئ د مونث لپاره) |
| تشي ګډوې | تشه (صفت دئ د مونث لپاره) |
| لوڅي پښې | لوڅه (صفت دئ د مونث لپاره) |

۲ـ هغه ښځينه اسمونه چي:

- په پای کي يې (ه ، ـه) را غلي وي.
- د (ه ، ـه) تر مخه توری يې زورکی لري.
- پر وروستۍ برخه يې خج نه دئ را غلئ.

جمعي يې په معروفه (ي) جوړېږي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| ښځه (اسم) | ښځي |
| ورځه (اسم) | ورځي |
| کرکه (اسم) | کرکي |
| مچه (اسم) | مچي |

په ختیځه لهجه کي دغه جمعي په اوږده یا مجهوله (ې) لیکي.

❖ هغه صفتونه چي تر دغو ښځینوو اسمو د مخه راځي او دغه لاندي دري خاصیته و لري:

- په پای کي یې (ه، ـه) را غلي وي.
- د (ه، ـه) تر مخه توری یې زورکی لري.
- پر وروستۍ برخه یې خج نه دی را غلئ.

د اسم د جمعي په وخت کي معروفه (ي) اخلي لکه:

| | |
| --- | --- |
| پټه مچه | پټي مچي |
| کونډه ښځه | کونډي ښځي |
| وراره ښځه | وراري ښځي |
| کراره خبره | کراري خبري |
| پنډه ورځه | پنډي ورځي |
| خوږمنه ګوته | خوږمني ګوتي |
| غونډه (مجلس) | ټولي غونډي |
| غونډه (صفت دئ د مونث اسمو له پاره) | غونډي خبري (ټولي خبري) |

په ختیځه لهجه کي دغه جمعي په اوږده یا مجهوله (ې) لیکي.

که چیري دغه صفتونه د خپلو مونثو اسمو په جمع، اضافت او یا ځینو ماضي جملو کي راسي (ه، ـه) یې په معروفه یا لنډه (ي) اوړي لکه:

| | |
| --- | --- |
| پټه خوله | پټي خولې |

د مونث اسم د اضافت په صورت کي لکه: ستا د پټي خولې خندا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونډه ښځه            د کونډې ښځې

د مونث اسم د اضافت په صورت کې لکه: د کونډې ښځې.

یوه خبره چې دلته یې ستونزه را منځته کړې ده هغه دا د ختیځې او لوېدیځې لهجې د معروفې (ې) او مجهولې (ې) کارونه ده. دا کار په نورو ژبو کې هم سته، خو په نورو هیوادو کې لیکنه د یوې معینې فیصلې له مخې کیږي.

دلته غواړم چې د مجهولې (ې) یو مثال چې ځینې خلک یې په خپلو لیکنو کې ډېره کاروي. دغه کار په ځینو ځایو کې د ژبې د ګرامر سره ښکاره مخالفت لري. د دې خبرې د تصدیق لپاره مې د جهانې صاحب د (ورکه مېنه) دوه مختلف چاپ سوي کتابونه مخ ته پراته دي. دغه کتاب لومړی په کویټه کې چاپ سوی دئ او د دوهم ځل لپاره په پېښور کې چاپ سوی دئ. دلته لاندې به په دواړو ټوکو کې یو بیت سره و ګورو:

د شعر نوم دئ: زه به شهید یم

د کویټې چاپ:

ګرانې یـو ورځ به مې د قبر سر ته وینې ژاړې
زه به شهید یم رشتیا سوې به وې ټول خوبونه

د پېښور چاپ:

ګرانې یو ورځ بـه مې د قبر سر ته وینې ژاړې
زه به شهید یم رشتیا سوې به وې ټول خوبونه

د کویټې د چاپ لیکنه سمه او د ښاغلي جهانې صاحب د نورو ټولو لیکنو سره برابره ده. خو د پېښور په چاپ کې څو ځایه مجهوله (ې) بېځایه کارول سوې ده چې دې کار په یوه ځای کې ګرامري غلطي را منځته کړې ده. غلطي دا ده چې:

په لومړي نیم بیتي کې (ګرانې یو ورځ به مې د قبر سر تـه وینې ژاړې) د شاعـر مـرام (وینې) یعني د زړه وینې دي خو د دوهم ځل لیکلو په صورت کې چې (وینې) په مجهوله (ې) یعنې (وینې) را غلې دي دغه وینې د لیدلو په معنا دي. دغه کار شعر بې مفهومه کوي. په دغه چاپ کې یوازې دغه بیت نه دئ بلکې په ډېرو زیاتو ځایو کې د شاعر د غوښتني په خلاف دغسې لاس وهنې سوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**4.ثقیله تانیثي یا درنده ښځینه ( ې ) :** د مونثو یا ښځینوو نومونو په پای کې راځي لکه: ملالۍ ، ګاډۍ ، لنګۍ ، غالۍ ، هګۍ ، پېرۍ او نور.

د دغې (ۍ) خاصیت دا دئ چې معمولا د ښځینوو نومونو په پای کې را ځي. په کلمه کې تر ثقیلې (ۍ) د مخه توری تل زورکی لري لکه په دې لاندې اسمو کې:

د (ملالۍ) په کلمه کې (ل) زورکی لري.
د ( ګاډۍ) په کلمه کې (ډ) زورکی لري.
د ( لنګۍ) په کلمه کې (ګ) زورکی لري.
د ( غالۍ ) په کلمه کې (ل) زورکی لري.
د (هګۍ) په کلمه کې (ګ) زورکی لري.
د (پېرۍ) په کلمه کې (ر) زورکی لري.

کله چې د ښځینه اسم په ثقیله (ۍ) پورې کومه بله کلمه یا توری و نښلي، ثقیله (ۍ) خپل شکل بدلوي او په معروفه (ي) لیکل کیږي. مګر ږغ یې پر خپل حالت پاته کیږي یعنې تر (ـیـ) د مخه توری بیا هم زورکې لري لکه:

ټول خلک په ګاډیو کې ولاړل.
ربدې د ټولو لنګیو پیسې ور کړې.
د افغاني غالیو بیه ډېره لوړه تللې ده.
د دغو هګیو پوستکي ډېر کلک دي.
په دې وروستیو پېریو کې د تخنیک په برخه کې ډېر پر مختګونه سوي دي.
ټول نړیوال د ځینو ناروغیو څخه ډار لري.

په ګاډیو کې (ډ) ، په لنګیو کې (ګ) ، په غالیو کې (ل) ، په هګیو کې (ګ) ، په پېریو کې (ر) او په نړیوال کې (ړ) بیا هم زورکی لري. یعنې (ي) بیا هم په (ۍ) تلفظ کیږي.

دلته یوازنۍ کلمه (نړیوال) ده چې ځیني خلک یې په معروفه (ي) تلفظ کوي او ځیني یې په د ښځینه اسم په ثقیله (ۍ) تلفظ کوي.

## د ثقیلې تانیثي یا درندې ښځینه (ۍ) ځیني خواص:

د مونثو اسمو ثقیلې (ۍ) ځیني خواص:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ : هغه اسمونه چي په پای کي یې (ی) را غلې وي مونث یا ښځینه نومونه دي . د دغو لاندي ښځینوو اسمونو جمعي او مفرد دواړه په (ی) را ځي لکه :

| مفرد | جمع |
|---|---|
| یوه هګۍ | ځلور هګۍ |
| یوه ګاډی | پنځه ګاډی |
| یوه افغانۍ | شپږ افغانۍ |
| یوه کړۍ | لس کړۍ |
| یوه ډوډۍ | درې ډوډۍ |
| یوه تنۍ | اته تنۍ |

هېر یې باید نه کړو چي په ژبه کي ځیني استثناوي سته لکه : د نجلۍ جمع نجلۍ نه ده بلکي نجوني دي لکه :

نجلۍ نجوني

په لوېدیځه لهجه کي دوې هګۍ ، دوې ګاډی ... را ځي ، خو په ختیځه لهجه کي د (دوې) پر ځای (دوه) را ځي یعني : دوه هګۍ ، دوه ګاډی ....

۲ : هغه اسمونه چي ثقیله (ی) یې په پای کي را غلې وي د مفرد په حالت کي، د اضافت یا ملکیت په حالت کي په خپل حالت را ځي لکه :

د هګۍ پوسکۍ ډېر کلک دئ .
د تنۍ غوټه دي خلاصه سوه .
د ګاډی آس سپین دئ .

کله چي دغه اسمونه د اضافت په حالت کي په جمع اړوو ثقیله (ی) یې په معروفه (ي) اوړي او (و) ور سره یو ځای کیږي اما تلفظ یې په ثقیله (ی) کیږي لکه :

د هګیو پوستکي کلک دي .
د تنیو غوټې دي خلاصي سوې .
د ګاډیو آسونه سپین دي .

په یاد یې باید ولرو چي دلته ځیني استثنایي حالتونه سته لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نجلۍ جمع په نجوني او د جمع د اضافت په وخت کي معروفه (ي) پــه (و) اوړي لکه:

د نجونو ښوونځی.

دلته لاندي به د هغو صفتو يو څو مثالونه را وړو چي د دغو مفرد اسمونو سره را ځي کوم چي په پای کي يې (ۍ) را غلې وي. دا چي اسمونه مونث دي نو صفتونه يې هم مونث را ځي لکه:

ورسته هګۍ
زړه افغانۍ
ژيړه کړۍ
پخه ډوډۍ
خلاصه تنۍ
سره ګاډۍ

که چيري پورتني اسمونه د جمع په حالت را سي اړونده صفتونه يې ځيني په مجهوله (ې) او ځيني ئې په معروفه (ي) را ځي لکه:

زړه هګۍ جمع يې (زړې هګۍ)
ژيړه ګاډۍ جمع يې (ژيړي ګاډۍ)

دلته لاندي به دغه دوه حالتونه و څېړو:

هغه ښځينه مفرد اسمونه چي په پای کي يې (ۍ) را غلې وي د جمع په وخت کي يې صفتونه دا لاندي دوه حالتونه لري:

- ❖ هغه صفتونه چي دغه لاندي خاصيتونه و لري:

- په پای کي يې (ه ، ـه) را غلې وي.
- تر (ه ، ـه) د مخه توری يې زور و لري
- پر پای ئې خج را غلی وي.

د مونث اسم د جمع په وخت کي يې د صفت د پای (ه ، ـه) په مجهوله (ې) اوړي لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| ورسته هګۍ | ورستې هګۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| زړه ګاډی | زړې ګاډۍ |
| پخه ډوډۍ | پخې ډوډۍ |
| کښه نجلۍ | کښې نجونې |

دلته مونثو اسمونو د جمع په وخت کې خپله قاعده و ساتل یعني نجلۍ په نجونې وا وښتلې نه چې جمع ئې برته په نجلۍ را غلې وای.

❖ هغه صفتونه چې دغه لاندې خاصیتونه و لري:

- د صفت په پای کې(ه ، ـه) را غلې وي.
- تر(ه ، ـه) د مخه توری زور و لري.
- د صفت د کلمې په پای کې یې خج نه وي را غلی.

په دغه صورت کې د اسم د جمع په وخت کې د صفت(ه ، ـه) په معروفه(ي) اوړي لکه:

| د اسم مفرد | د اسم جمع |
|---|---|
| ژیړه ګاډی | ژیړې ګاډۍ |
| زرینه لنګۍ | زرینې لنګۍ |
| خوږمنه ګوته | خوږمنې ګوتې |
| پلنه غالۍ | پلنې غالۍ |

که دغه مونث اسمونه جمع وي، د اضافت په حالت کې یې صفتونه او اسمونه دواړه داسې تغییر کوي لکه:

- د صفت د جمع مجهوله(ې) په(و) اوړي.
- د اسم د جمع ثقیله ښځینه(ۍ) په(یـ ، ي) اوړي مګر تلفظ یې په هغه ثقیله(ۍ) کیږي لکه:

| | |
|---|---|
| ورستې هګۍ | د ورستو هګیو .... |
| زړې ګاډۍ | د زړو ګاډیو .... |
| پخې ډوډۍ | د پخو ډوډیو .... |

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـو اسم چي زموږ زیـاتره پښتانه وروڼـه او خویندي ئې غلط تلفظ کوي هغه (ښوونځی) دئ چي په (ښوونځۍ) یې تلفظ کوي.

دغه کلمه په اصل کي ښوونځای دئ چي په محاوره کي ور نه ښونځی جوړ سوی دئ. ښوونځی نرینه نوم دئ. سړی نه پوهیږي چي دا ولي په ښځینه اسم (ښوونځۍ) اوښتی دئ. دا به ښه وي چي د دغه اسم تلفظ موږ سم کړو او ښوونځی یې و بولو.

زموږ ښوونکو هم دغه کمبود درلود هغه دا چي دوی هم په ښوونځي کي دا ډول زده کړې وو ځکه دغه غلطي پر مخ تله. دغه تېر وتنه چا نه وه را په ګوته کړې.

**5 ثقیله فعلي (ئ):** ځیني بیا دې (ئ) ته امریه (ئ) وایي لکه: و خورئ!، راوړئ! پرې کئ!، و ربېئ! او نور. حال دا چي دا (ئ) د فعل په ځینو نورو حالاتو کي هم راځي لکه: کوم خواړه چي تاسي یې خورئ ګټور نه دي.

د ثقیلي فعلي (ئ) تلفظ په لوېدیځه لهجه کي ډېر ښکاره دئ. د مخه تر دې چي په 1316 هـ ش کال کي پښتو ټولنه منځ ته را سي او بیا د پښتو ژبي د (ی) ګانو په اړه فیصلې و کړي د پښتو ژبي یو زیات شمېر د ګرامر کتابـونـه لیکل سوي ول. د هغو د جملې څخه یو هم د محمد اعظم ایازي کتاب دئ. په دغه کتاب کي د پنځو (ی) ګانو مثالونه را وړل سوي دي. د (ئ) مثال یې ښوونکئ را وړی دئ. تر دې وروسته بیا دا خبره منځ ته را ځي چي (ئ) دې یوازې د فعلونو لپاره و کارول سي.

د ثقیلي (ۍ، ئ) دواړه ډولونه د کلمې په سر او منځ کي د بل توري سره نښتي نه را ځي بلکي د کلمې په پای کي د نورو تورو سره یا نښتي او یا یوازي راځي.

ښاغلی دوست محمد دوست پـه خپل کتاب کي (د افغانستان ژبي او تکمونه) د ثقیلي (ۍ) په اړه داسي لیکي:

"د ثقیلي (ۍ) توپیر د خوشحال خان په لرغوني قلمي نسخه (۱۰۹۹ هـ ق) کي لیدل کیږي چي کله یې په (هـ+ی) او کله یې په (ئ) لیکلې ده. د پښتو ادبي انجمن په (۱۳۱۱ هـ ش) کي منځ تـه راغی او ثقیله (ۍ) یې پـه (ئ) و منله. د ښځینو نـومونـو (ۍ) په دغه شکل بیا وروسته منځ ته را غلې ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالعلي رسول زاده

مالمو سویډن

alirasulzada@hotmail.com

www.pashto.se

2016 د فبروری 27

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**